د ټرون ورکولو د پرېکړې خبرتیا

د تدارکاتو قانون د دري څلوېښتمې مادې له دویمې فقرې سره سم، ټولو ته خبر ورکول کېږي  چې د افغانستان بانک د شپږمې شهري څانگې د محافیظینو لپاره یو باب کوټه او پخلنځي جوړولو پروژې د (DAB/1404/NCB/W13) تشخیصیه شمېرې لرونکي ټرون پر بنسټ د زهرا رحیم ودانیز، سوداگریز او لوژستیکی شرکت ته ورکړي چې دا شرکت د (70451) شمېرې جواز لرونکی او اصلي موقعیت یې د پنجصد فامیلی، د کابل په مرکز کې دی. د ټرون ټولیزه بیه (1,170,025) یو میلیونه یو سلو اویا زره او پنځه ویشت افغانۍ ده.

د حقیقي او حکمي اشخاصو د هر ډول نیوکو په صورت کې دوی کولای شي چې د تدارکاتو قانون د پنځوسمې مادې سره سم خپله نیوکه په لیکلې بڼه د لاملونو په یادولو سره د اعلان د خپرېدو له نېټې تر اوو رسمي ورځو د افغانستان بانک د تدارکاتو لوی آمریت ته چې په ابن سینا واټ کې موقعیت لري، وسپاري.

دا خبرتیا د ټرون د لاسلیکولو په مانا نه ده او د پورته ذکر شوې مودې او د راتلونکو قانوني پړاوونو تر بشپړېدو به ټرون نه ترسره کېږي.